مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۵/۲۷

# د مینې قسمونه

بله شپه خو لړ راتم کانده ګردونه
ما ژړلي پوره نه دي زموږ يادونه

زه په خپل مرګ ربه نه يم خو افسوس
غوړېدل يې د مخ نه کړي سره ګلونه

مينې دومره مشهور کړو په وطن کې
پردی مینديې په اولاد ږدي زموږ نومونه*

غيرت ښه دی، ځواني هم ده خو هېواده
دا حالت به اخېر مات کړي زموږ زړونه

ته بيا راغلې له واده پس زموږ کور ته
ما ته ياد شول زموږ د مينې قسمونه

شاعر څنګه غربت ختم په ادب کړي؟
سهار غرمه ماښام کې وخوري غزلونه

کابل، ۱۸/۵/۲۰۲۳

يادونه: لومړۍ مسره د استاذ ذاکر حماس په وړانديز بدله شوي، څو مطلع يې جوړه شي. او دريم بيت د مشهور اردو ژبي شاعر (احمد فراز) د يو بيت تر اثر لاندې ليکل شوی.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ